محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۰/۲۱

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

لسمه برخه



**ویتنام:**

**د امریکایانو او متحدینو ماتي او د سولې هڅې**

د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر، جان کنېډي د ویتنام د جګړې د ناکامۍ په اړه ویلي وو:«جنوبي ویتنام ته پوځي مرستې چې په هره کچه او هر کیفیت وي نه شو کولی،(هغه دښمن چې په هر ځای کې موجود دی او په هېڅ ځای کې نه لیدل کیږي) له منځه یوسو، داسې دښمن چې د خپلو خلکو له ملاتړ برخمن دی، دغې حقیقت ته پام کول اړین دي، تر هغې چې د هندو چین له خلکو او ملي ځواکونو ملاتړ ونه لرو، په دې اسیایي سیمه کې نه یوازې بری مشکل دی بلکې ناممکن دی.» (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۱۸مخ)

په ویتنام کې د امریکایي عسکرو مورال، د پرله پسې ناکامو جګړو او د ویتنامیانو د ټینګ هوډ او مقاومت پر وړاندې ډېر ټیټ شوی ؤ.

په ویتنام کې د امریکایي پوځي ځواکونو د مشکلاتو په لړ کې یو لوی مشکل دا ؤ چې امریکایانو د ویتنامیانو په منځ کې د دوست او دښمن توپیر نه شو کولی.

لکه ولسمشر کنېډي چې وایي امریکایان له داسې دښمن سره مخ دي چې په هر ځای کې موجود دی او په هېڅ ځای کې نه لیدل کیږي.

ښاري امریکایي ځواکونو ته ټول ویتنامیان دښمنان ښکاریدل چې له هر چا به په وېره کې وو او په ناپایه ډار کې اوسیدل.

یو امریکائی نیول شوي پیلوټ ویلي وو چې موږ نه یوازې له کمونستانو سره جګړیږو بلکې له ټولو ویتنامیانو سره په جګړه کې یو... (برتراند راسل: جنایات جنګ در ویتنام، فارسي ژباړه د ایرج مهدویان، ۱۶۴مخ)

له بل پلوه په ویتنام کې د اوږدې جګړې له امله په امریکا کې دننه او نړۍ کې د امریکا په زیان ډول، ډول ناخوالې رامنځ ته شوې چې له هغې څخه د امریکایي ډالرو ارزښت ټیټ شو، پوځیان له جګړو په تېښته کې وو، په ټوله امریکا کې د جګړې پر مخالفت خلک پورته شول او ناټو هېوادونو هم پر امریکا سخته نیوکه وکړه. (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا ... ۱۶۶مخ)

د ویتنام له جګړې څخه د امریکایي پوځیانو د انکار او تېښتې په اړه ښاغلی پروفیسور هواډ زین لیکي:«د امریکا په تاریخ کې د سرتېرو په منځ کې له جګړو سره مخالفتونه موجود وو... په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې د امریکایي سرتېرو نه ګډون او له جبهې تېښته د وجداني دلایلو له امله وه خو د ویتنام جګړې د امریکائي سرتېرو په منځ کې پراخ مخالفت رامنځ ته کړ چې دا ډول مخالفت هېڅ کله نه وو لیدل شوی.

په ویتنام کې د جګړې د دوام له امله په امریکائي عسکرو کې د تېښتې پېښې ډېرې زیاتې وې، په زرګونو پوځیان غربي اروپا، فرانسې، سویډن، هالنډ ته ولاړل چې ډېری یې د کانادا له پولې وتښتېدل، د دغو تښتیدلیو عسکرو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شمېره ځينو کسانو پنځوس زره ښودلي ده او ځينو سل زره کسان ښودلي دي ... يوه ډله عسکر د خپلو قوماندانانو پر وړاندې ودرېدل او په کليسا کې يې پناه واخيسته ... .» (داستان امريکا، ۲ توک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي، ۳۱۵-۳۱۶ مخونه)
ښاغلی هواډ زين زياتوي:«په ۱۹۷۱ز، کال کې له هرو زرو تنو امريکايي عسکرو څخه (۱۷۷) تنه عسکر په خپل سر غيرحاضر وو او يو شمېر يې درې ځلور ځله غيرحاضر شوي وو. په ۱۹۶۷ز، کال کې (۴۷۰۰۰) عسکر تېښتيدلي وو چې دا شمېره تر ۱۹۷۱ز، کال پورې (۸۹۰۰۰) کسانو ته رسيدلې وه. همدا شان په ۱۹۷۲ز، کال کې د (بي- ۵۲) جګړه ييزو الوتکو يوې ډلې پيلوټانو له الوتنو ډډه وکړه.» (هماغه کتاب، ۳۲۰- ۳۲۲مخونه)
په ۱۹۶۴ز، کال کې راپورونه ليکي چې له څه مودې راپه دېخوا په ويتنام کې امريکايي قوماندانانو څرګندونې کړې دي وايي چې په ويتنام کې زموږ لپاره برى ناشونى دى، موږ په دې هڅه کې يو چې څه ډول کولی شو د خپلو تلفاتو کچه راټيټه کړو ... . (برتراند راسل: جنايات جنګ در ويتنام ... ۵۸مخ)
په کال ۱۹۶۵ز، کې چې په ويتنام کې امنيتي وضعيت مخ په خرابيدو ؤ او امريکايانو په خپل بري شک درلود، نو خپلو کړنو ته يې بدلون ورکړ، امريکايانو وويل چې موږ اشغالګر نه يو بلکې موږ دلته ميلمانه راغلي يو. (غلام رضا نجاتي: شکست امريکا، ويتنام ... ۸۹مخ)
دغو نابلليو ميلمنو، وروسته له هغې چې ډېر ويتناميان يې ووژل او په خپله هم ووژل شول له ويتناميانو سره يې د روغې جوړې هڅې پيل کړې.
ولسمشر جانسون د سپتامبر په ۲۹/ ۱۹۶۷ز، کې له شمالي ويتنام سره بيا ځلې د سولې خبرو لپاره د امريکايانو چمتوالی اعلان کړ، هغه وويل متحده ايالات او جنوبي ويتنام د سولې خبرو لپاره همدا نن ورځ چمتو دي، موږ بيا تکراروو چې موږ حاضر يو ټول هوايي بريدونه په ويتنام کې ودروو، په دې شرط چې داډ تر لاسه کړو چې د هوايي بريدونو درول د مذاکرو لپاره ګټور تمام شي. د ۱۹۶۷ز، کال د اکتوبر په ۳مه نيټه شمالي ويتنام د ولسمشر جانسون وړانديز ونه منلو، ويې ويل چې په دې وړانديز کې کومه نوي خبره نه شته، څو ورځې وروسته د شمالي ويتنام د بهرنيو چارو وزير څرګنده کړه:«د امريکا د بمباريو د درولو له امله به شمالي ويتنام له امريکايانو سره خبرې ونه کړي.» (هماغه کتاب، ۱۴۰مخ)
د ۱۹۶۸ز، کال په لومړيو کې په ويتنام کې د جګړې له کبله د ډېرو امريکايانو وجدانونه وخوځيدل، دوی په دې مشکل پوهيدلي وو چې په ويتنام کې نه شي بريالي کيدای، په داسې حال کې چې تر دې مهاله (۴۰۰،۰۰۰) امريکايي عسکر وژل شوي وو او (۲۵۰،۰۰۰) ټپيان وو چې دا وژنې همداسې رواني وې... ليندو جانسون د دغې وحشي جګړې اور لا پسې پراخ کړی ؤ چې د بريا هيله هم نه وه، د ده د محبوبيت کچه ډېره ټيټه شوي وه هغه نه شول کولی په کوم ځای کې د خلکو پر وړاندې  مخ څرګند کړي... . (پروفيسور هواډ زين: داستان امريکا، ۲ توک ... ۳۰۰مخ)
دا مهال د امريکا يو وتلي مبصر وليکل:«د امريکا ستراتيژي په اسيا کې ماتې خوړلې ده، موږ په اسيا کې د پوليسو دند ترسره کوو.» (غلام رضا نجاتي: شکست امريکا... ، ۱۳۹مخ)



په ويتنام کې د امريکا متحده ايالاتو له ماتې وروسته نيکسون چې د جانسون څخه وروسته ولسمشر شو داسې وويل:«امريکا له خپلو دوستو هيوادونو سره نامحدوده مرسته کوي خو دا اسيايان دي چې بايد له اسيايانو سره جګړه وکړي، د نيکسون موخه دا وه چې جنوبي ويتنام په پرمخ تلليو وسلو سمبال کړي او د ويتنام له جګړې څخه امريکا وباسي او جګړه ويتنامي کړي، داسې چې جنوبي ويتنام له شمالي ويتنام سره په جګړه کې پرېږدي. (هماغه، ۱۴۸مخ)
په ۱۹۶۹ز، کال کې د امريکا ولسمشر، ريچارډ نيکسون په خپلو ټاکنيزو مبارزو کې ژمنه کړې وه چې د ويتنام جګړې به پای ته رسوي، هغه د امريکايي عسکرو ايستل پيل کړل او د ۱۹۷۲ز، کال په فبرورۍ کې ۱۵۰ زره سرتيري په ويتنام کې پاتې وو، خو هوايي بمبارۍ رواني وې، نيکسون غوښتل (جګړه ويتنامي) کړي... (پروفيسور هواډ زين: داستان امريکا، ۲ توک ...  ۳۰۰مخ)

د ۱۹۷۳ز، کال په مني کې چې د شمالي ويتنام ځواکونه د جنوبي ويتنام په مختلفو سيمو کې ځای پرځای وو د امريکايانو د بري کومه هيله نه ترسترګو کيده، نو د امريکا متحده ايالاتو اعلان وکړ:«دې ته چمتو دي چې له ويتنام څخه خپل ځواکونه وباسي، يوه د حل لاره ومومي، ترڅو چې نوی انتخابي دولت رامنځ ته کېږي، [د شمالي ويتنام] انقلابي ځواکونه په خپلو ځوکيو کې ومني» خو د جنوبي ويتنام د سايګون رژيم د امريکايانو د دې وړانديز پر وړاندې مخالفت وکړ چې له امله يې امريکايانو بيا کوښښ وکړ شمالي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ويتنام په زور سره تسليمی ته اړ کړي، په دې جګړه کې ډېر شمېر (B– 52) جګړه ييزو الوتکو د شمالي ويتنام په هانوی او هايفونګ ښارونو بريدونه وکړل، کورونه، روغتونونه او ډېر شمېر ملکي خلک يې ووژل، د امريکايانو دا بريدونه هم بريالي نه وو، ډېرې (B- 52) الوتکې د شمالي ويتنام ځواکونو له خوا راوغوځول شوې، د امريکايانو دغو بريدونو په نړۍ کې شور جوړ کړ هغه وو چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير هنري آلفرډ کيسينجر پاريس ته ولاړ او د سولې هغه تړون يې لاس ليک کړ چې پخوا روغه پرې شوې وه. (هماغه،۳۲۴مخ)

د تړون پر بنسټ امريکايي اسيران آزاد شول او د جنوبي ويتنام واکمن جنرال تيو په خپله چوکۍ پاتې خو په سياسي وضعيت باندې د جنرال تيو موقف د اوربند له کبله کمزوری شو، له کمونستانو سره د سولې تړون د خبرو اترو زمينه له

(له دوک تو د ويتنام پياوړی قوماندان، سياستوال، ديپلمات او انقلابي)

منځه ولاړه، د ۱۹۷۳ز، کال تړون ونه کړای شول په ويتنام کې د تاوتريخوالي او په لاؤس او کمبوجيا کې د جګړې مخه ونيسي په دغو سيمو کې د امريکا پلويانو او کمونستانو تر منځ ناآرامی رامنځ ته شوې.[1] د ۱۹۷۳ز، کال په ژمي کې امريکايانو خپل نظامي ځواکونه له ويتنام څخه وايستل خو د پخوا په څېر يې د سايګون رژيم سره مرستې روانې وې. (پروفيسور هواډ زين: داستان امريکا، ۲ ټوک ... ، ۳۲۵مخ)

د ۱۹۷۴ز، په دسامبر کې د شمالي ويتنام کمونستانو او جنوبي ويتنام آزادۍ غوښتونکي ملي جبهې، د (فونک لونګ) په سيمه باندې لوی بريد پيل کړ چې په جنوبي ويتنام کې يې لومړنی ايالاتي مرکز لاندې کړ، دا مهال د پاريس د تړون پر بنسټ، واشينګټن بايد د سايګون مرستې ته ورداننګلې وای خو امريکايي ځواکونه له ځايه هم ونه ښوريدل، ځکه چې په سلو کې اويا تنه امريکايان د هر ډول مداخلې مخالف وو ... له بل پلوه د دغه لوی بريد په ورځ داسې پېښه رامنځ ته شوه چې د جنوبي ويتنام واکمن جنرال تيو چې يو خرافاتي کاتوليک مذهبه ؤ ... د ده د پلار مړيستون چې د (کام ران) په سيمه کې ؤ، د مړيستون په سر باندې يې لوړه کومبزه جوړه کړې وه، هم مهاله يو سخت توپان پورته شو، د جنرال تيو د پلار د مړيستون ګومبزه يې له ځايه هوا ته پورته او ورانه يې کړه چې د جنرال تيو لپاره دا پېښه ناوړه او [په بد فال يې ونيوله] له دې امله، په ډېرې خواشينی سره په سايګون کې د امريکا سفير (ګراهام مارتين) ته د مرستې په موخه ورغی، ګراهام مارتين چې د ويتنام په جګړه کې يې زوی وژل شوی ؤ ... کومه مرسته ونه کړه. (غلام رضا نجاتي: شکست امريکا... ۱۵۸-۱۵۹مخونه)



د امريکا ولسمشر نيکسون ليکلي ژمنې او د کيسينجر شفاهي ژمنې چې د ۱۹۷۴ز، کال په اکتوبر کې يې له سايګون سره کړې وې چې که د شمالي ويتنام ځواکونو د جنوبي ويتنام يو ولايت، يا د ولايت مرکز لاندې کړ، د امريکا پوځ به د سايګون مرستې ته ورداننګي خو امريکايانو مرسته ونه کړه ... (هماغه ۱۶۰مخ)

له بل پلوه د شمالي ويتنام د دفاع وزير او د (دين بين فو) اتل جنرال وونګوين جياپ وويل چې امريکايان نه شي کولی په خپلو اجيرو عسکرو باندې جګړه وګټي... . (هماغه کتاب، ۱۲۰مخ)

(د امريکا د متحده آيالاتو د بهرنيو چارو وزير، هنري آلفرډ کيسينجر)

[1] جان يانګ: جنګ سرد صلح سرد، ژباړونکي: دکتر عزت الله عزتي، محبوبه بيات، ۱۶۸مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولــئ